محترمو حاضرینو ! په قرآن کريم او احاديثو کې د صدقې ورکولو ډېر فضيلت بيان شوی ، او رسول الله صلی الله عليه وسلم هم خپل امت ته د صدقې ورکولو ډېر ترغيب ورکړی.

د صدقې ترغيب او برکات

۱. الله تعالی فرمايي :

﴿إِنَّ الْمُصَّدِّقِيْنَ وَالْمُصَّدِّقٰتِ وَأَقْرَضُوا اللّٰهَ قَرْضًا حَسَنًا يُّضٰعَفُ لَهُمْ وَلَهُمْ أَجْرٌ كَرِيْمٌ ﴾(۳)

---

(۱) الحديد آيت ۱۸ .

(۲) رواه البخاري في الزكاة ۱۴۳۱ ، (۲ / ۱۴۲) ، ومسلم في الزكاة ۵۷ .

(۳) الحديد آيت ۱۸ .

نوټ : " د صدقې ورکولو فضيلت " دا موضوع د <u>**اِصلاحي مدلل تقريرونه**</u> کتاب په دريم جلد کې په تفصيل سره ذکر ده، دلته مې صرف يو څو عنوانات مختصرًا رانقل کړي . ابو الشمس

ترجمه : بېشکه صدقه ورکوونکي سړي او صدقه ورکوونکې ښځې ، او څوک چې الله ﷻ ته په ښه شان سره قرض ورکوي (يعنې د الله ﷻ د رضا دپاره په اِخلاص سره صدقه ورکوي) نو دوی ته به ددې صدقې ثواب دوچند کولې شي ، او د دوی د پاره اَجر د عزت (يعنې جنت) دی .

۲ . بل ځای الله رب العزت فرمايي :

﴿مَنْ ذَا الَّذِيْ يُقْرِضُ اللهَ قَرْضًا حَسَنًا فَيُضَاعِفَهُ لَهُ وَلَهُ أَجْرٌ كَرِيْمٌ﴾ . (۱)

ترجمه : څوک دی چې الله ﷻ ته په ښه شان قرضه ورکړي (يعنې په اخلاص سره داسې صدقه ورکړي چې بې اِحسانه او بې رِيا وي) نو الله تعالی به دا دده د پاره څو څو چنده زيات کړي ، او دده د پاره لوي اَجر دی .

فايده : الله ﷻ خو صَمد او بې نيازه ذات دی د چا د قرضې محتاج نه دی ، خو دلته مطلب دادی چې څوک دَ الله ﷻ د رضا د پاره يو فقير ، مسکين او ضرورتمند ته صدقه ورکړي نو دا ګويا ددې انسان د الله ﷻ سره اَمانت شو ، ددې اَجر به ورکوي ، لکه څرنګه چې سړې چا ته قرض ورکړي او هغه يې ده ته بيا واپس کوي

۳ . رسول الله ﷺ فرمايي : قَالَ اللهُ تَعَالٰى : أَنْفِقْ يَا ابْنَ اٰدَمَ أُنْفِقْ عَلَيْكَ . (۲)

حديث قدسي دی الله تعالی فرمايي : اې د آدم ځويه ! ته (زما په ضرورتمندو بندګانو باندې) خرچ کوه زه به په تا باندې خرچ کوم (يعنې د خپلو خزانو نه به تا ته درکوم) .

د صدقې ورکولو فوايد

زمونږ په شريعت کې د صدقې ورکولو دومره فضايل او فوايد بيان شوي دي چې د هغې ټولو بيانول ډير ګران دي ، خو زه به درته صرف يو څو غټ فوايد بيان کړم :

---

(۱) الحديد آيت ۱۱ .

(۲) هذا الحديث اخرجه البخاري في صحيحه في كتاب التفسير ، تفسير سورة هود باب " وكان عرشه على الماء" رقم (۴۶۸۴) ومسلم باب الحث على النفقة وتبشير المنفق بالخلف ۲۲۸۳ / ۳۶ (۹۹۳) ، والترمذي في جامعه في كتاب تفسير القرآن رقم (۳۰۴۵) ، وابن ماجه في سننه في المقدمة رقم (۱۹۷) ، واحمد في مسنده (۲ : ۲۴۳ ، ۳۱۳) .

د صدقې په وجه په مال کې برکت او پاکوالې راځي

د صدقې اوله فايده داده چې ددې په وجه د انسان په مال کې برکت پيدا کيږي او مال ورسره صفا کيږي.

۱. الله رب العزت فرمايي:

﴿وَمَآ أَنفَقْتُم مِّن شَيْءٍ فَهُوَ يُخْلِفُهُ وَهُوَ خَيْرُ الرَّازِقِينَ﴾.(۱)

ترجمه: او څه چې تاسو (د الله ﷻ په لاره کې) خرچ کوی نو هغه به ددې بدله درکوي، او هغه ډير ښه رزق ورکوونکې دی.

۲. بل ځای الله ﷻ فرمايي:

﴿وَمَا تُنفِقُوا مِنْ خَيْرٍ يُوَفَّ إِلَيْكُمْ وَأَنتُمْ لَا تُظْلَمُونَ﴾.(۲)

ترجمه: او تاسو چې کوم مال خرچ کوی هغه به درته (په دُنيا او آخرت کې) پوره پوره واپس درکړې شي، او په تاسو به ظلم نشي کولی.

۳. د بخاري او مسلم شريف حديث دی، رسول الله ﷺ فرمايي:

مَا مِنْ يَوْمٍ تُصْبِحُ الْعِبَادُ فِيهِ إِلَّا وَمَلَكَانِ يَنْزِلَانِ فَيَقُوْلُ أَحَدُهُمَا: اَللّٰهُمَّ أَعْطِ مُنْفِقًا خَلَفًا. وَيَقُوْلُ الْآخَرُ: اَللّٰهُمَّ أَعْطِ مُمْسِكًا تَلَفًا.(۳)

په هره ورځ د سهر په وخت کې دوه (۲) فرښتې راکوزيږي، او په هغې کې يوه فرښته (د سخي د پاره) دا دُعا کوي: يا الله! څوک چې (د خير په کارونو کې) خرچ کوي هغه ته ددې بَدله ورکړه (يعنی په دُنيا کې يې مال زيات کړه، او آخرت کې ورته ددې ثواب ورکړه)

(۱) سورة سبا آيت ۳۹.

(۲) البقرة آيت ۲۷۲.

(۳) رواه البخاري في الزكاة ۲۳۱، (۲/ ۴۲)، ومسلم في الزكاة ۵۷

د صدقې ورکولو په وجه مال نه کميږي

بعضې خلق دا ګمان کوي چې که چيرته مونږ صدقه يا خيرات ورکړو نو ګنې په دې سره به زمونږ مال کم شي ، حالانکه داسې نه ده ، رسول الله ﷺ خپل امت ته دا خبره واضحه کړې چې د صدقې په وجه مال نه کميږي ، بلکه نور هم په کې برکت پيدا کيږي .

۱ . د مسلم شريف حديث دی ، نبي عليه الصلوة والسلام فرمايي :

مَا نَقَصَتْ صَدَقَةٌ مِنْ مَالٍ . (۱)

صدقې په مال کې کمې نه دې راوستی ، (يعنی صدقې سره مال نه کميږي) .

۲ . په يو بل حديث کې رسول الله صلی الله عليه وسلم قسَم کوي :

ثَلَاثٌ أُقْسِمُ عَلَيْهِنَّ _ وَأُحَدِّثُكُمْ حَدِيْثًا فَاحْفَظُوْهُ _ مَا نَقَصَ مَالُ عَبْدٍ مِنَ الصَّدَقَةِ . وَلَا ظُلِمَ عَبْدٌ مَظْلَمَةً صَبَرَ عَلَيْهَا إِلَّا زَادَهُ اللهُ عِزًّا . وَلَا فَتَحَ عَبْدٌ بَابَ مَسْئَلَةٍ إِلَّا فَتَحَ اللهُ عَلَيْهِ بَابَ فَقْرٍ . (۲)

درې (۳) خبرې داسې دي چې زه د هغې په صداقت قسَم کوم ، او تاسو ته يوه خبره کوم هغه ياده کړئ ، د بنده مال په صدقې ورکولو سره نه کميږي ، او په کوم بنده چې ظلم اوشي او هغه پرې صبر وکړي نو الله تعالی به يې نور هم عزت زيات کړي ، او کوم بنده چې (په خپل ځان باندې) د سوال دروازه پرانيزي نو الله تعالی به په ده باندې د فقيرۍ دروازه پرانيزي .

۳ . امير شريعت سيد عطاء الله شاه بخاري رحمه الله به فرمايل : چې ما ټول عُمر د دوه (۲) کسانو تلاش وکړو خو هغه ما اونه موندل :

يو هغه کس چې هغه صدقه ورکړي وي او هغه غريب شوې وي (يعنی په صدقې ورکولو سره هيڅوک نه غريب کيږي ، بلکه الله ﷻ يې په مال کې نور هم برکت اچوي) .

(۱) رواه مسلم فی البرّ والصلة ۶۹ ، واحمد ۵ / ۲۳۵ ، ۳۶۸ ، والبيهقي ۱۰ / ۲۳۵ ، ۴ /۱۸۷ ، مشکوة باب فضل الصدقة الفصل الاول حديث ۲.

(۲) رواه احمد ۴ / ۲۳۱ ، والتبريزي فی المشکاة ۵۲۸۷ ، والسيوطي فی الدرّ ۴ / ۲۳۱ ، المتجر الرابح في ثواب العمل الصالح ص ۱۳۱ ، رياض الصالحين ج۱ باب الکرم والجود والانفاق في وجوه الخير .

او دويم هغه کس چې هغه ظلم کړې وي او هغه د الله ﷻ د سزا نه محفوظ شوې وي (بلکه الله ﷻ ظالم ته خامخا سزا ورکړي).

په پټه صدقې ورکولو سره د الله ﷻ د غضب نه محخوظ کيدل

کله چې انسان په پټه صدقه ورکړي چې د رِيا او سُمعت نه پاکه وي نو په دې سره دا انسان د الله ﷻ د غضب او قهر نه محفوظ کيږي.

۱. رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي:

صَدَقَةُ السِّرِّ تُطْفِئُ غَضَبَ الرَّبِّ، وَصِلَةُ الرَّحِمِ تَزِيْدُ فِي الْعُمُرِ. (۱)

په پټه صدقه ورکول د الله ﷻ غضب يَخوي (يعنى د الله ﷻ غضب دفع کوي)، او صله رحمي کول په عُمر کې زيادت (او برکت) راولي.

۲. په يو بل حديث کې ورسره نوره اضافه هم شته، نبي عليه السلام فرمايي:

إِنَّ الصَّدَقَةَ لَتُطْفِئُ غَضَبَ الرَّبِّ وَتَدْفَعُ مِيْتَةَ السُّوْءِ. (۲)

بيشکه صدقه ورکول د الله ﷻ غضب (غصه) يَخوي (يعنى ختموي يې)، او د خراب مرګ نه حفاظت کوي.

په پټه سره د صدقې ورکولو فضيلت

۱. د ترمذي شريف حديث دى، رسول الله ﷺ فرمايي:

لَمَّا خَلَقَ اللهُ الْأَرْضَ جَعَلَتْ تَمِيْدُ فَخَلَقَ الْجِبَالَ فَقَالَ بِهَا عَلَيْهَا. (۳) فَاسْتَقَرَّتْ فَعَجِبَتِ

---

(۱) قال في مجمع الزوائد (۳/۱۱۵) رواه الطبراني في الكبير (۲/۹۶) واسناده حسن، الترغيب والترهيب ج۱ (۴/۶۱۷)، المتجر الرابح في ثواب العمل الصالح ص ۱۳۸ ثواب صدقة السرّ، نزهة الناظرين ص ۱۹۹ كتاب الصدقة.

(۲) رواه الترمذي الحديث ۶۶۴، وابن حبان في صحيحه والسيوطي في الجوامع ۵۶۶۱، والهندي في الكنز ۱۵۹۳۵، ۱۶۱۱۴، والزبيدي في الاتحاف ۴/۱۱۴، ۱۶۷، المتجر الرابح ۱۳۶ ثواب الصدقة وفضلها، وقال الترمذي حديث حسن غريب. الترغيب والترهيب (۴/۶۱۷).

(۳) وَفِي رِوَايَةٍ: لَمَّا خَلَقَ اللهُ الْأَرْضَ جَعَلَتْ تَمِيْدُ وَتَكَفَّأُ فَأَرْسَاهَا بِالْجِبَالِ..... رواه الترمذي الحديث ۳۳۶۹، واحمد ۳ ۱۲۴، والتبريزي في المشكوة ۱۹۲۳، والمنذري في الترغيب ۲/۳۰. المتجر الرابح ص ۱۳۹.

الْمَلَائِكَةُ مِنْ شِدَّةِ الْجِبَالِ فَقَالُوْا : يَارَبِّ ! هَلْ مِنْ خَلْقِكَ شَيْءٌ أَشَدُّ مِنَ الْجِبَالِ ؟ قَالَ : نَعَمْ اَلْحَدِيْدُ . فَقَالُوْا : يَارَبِّ هَلْ مِنْ خَلْقِكَ شَيْءٌ أَشَدُّ مِنَ الْحَدِيْدِ ؟ قَالَ : نَعَمْ اَلنَّارُ . فَقَالُوْا : يَارَبِّ هَلْ مِنْ خَلْقِكَ شَيْءٌ أَشَدُّ مِنَ النَّارِ ؟ قَالَ : نَعَمْ اَلْمَاءُ . فَقَالُوْا : يَارَبِّ هَلْ مِنْ خَلْقِكَ شَيْءٌ أَشَدُّ مِنَ الْمَاءِ ؟ قَالَ : نَعَمْ اَلرِّيْحُ . فَقَالُوْا : يَارَبِّ هَلْ مِنْ خَلْقِكَ شَيْءٌ أَشَدُّ مِنَ الرِّيْحِ ؟ قَالَ : نَعَمْ اِبْنُ آدَمَ تَصَدَّقَ صَدَقَةً بِيَمِيْنِهِ يُخْفِيْهَا مِنْ شِمَالِهِ . (۱)

کله چې الله تعالی زمکه پیدا کړه نو هغه په خوزیدو شوه ، بیا الله تعالی غرونه پیدا کړه او دایې په زمکه اُودرول ، نو زمکه په قلاره شوه . فرښتو ته د غرونو په سختئ ډیر تعجب اوشو ، الله تعالی ته یې وویل :

اې الله ! ستا په مخلوقاتو کې د غرونو نه هم سخت شی شته ؟ الله تعالی ورته وفرمایل : هو . اُوسپنه ده (چې دا کاڼي هم ماتوي) .

فرښتو بیا عرض وکړو : اې زمونږه ربه ! آیا ستا په مخلوقاتو کې د اُوسپنې نه هم زیات سخت څه شی شته ؟ الله رب العزت ورته وفرمایل : آو ، هغه اُور دی (چې دا اُوسپنه هم ویلې کوي) .

فرښتو بیا پوښتنه وکړه : اې زمونږه ربه ! آیا ستا په مخلوقاتو کې د اُور نه هم زیات سخت شی شته ؟ الله تعالی وفرمایل : آو ، اُوبه دي (چې اُوبه اُور هم مړ کوي) .

فرښتو بیا عرض وکړو : اې زمونږه ربه ! آیا ستا په مخلوقاتو د اُوبو نه هم زیات قوي څه شی شته ؟ الله تعالی وفرمایل : آو ، هوا ده (چې دا اُوبه هم اُوچوي) .

فرښتو بیا وویل : اې زمونږه ربه ! آیا ستا په مخلوقاتو کې د هوا نه هم زیات مضبوط څه شی شته ؟ الله رب العزت ورته وفرمایل :

نَعَمْ اِبْنُ آدَمَ تَصَدَّقَ صَدَقَةً بِيَمِيْنِهِ يُخْفِيْهَا مِنْ شِمَالِهِ .

آو ، هغه د بني آدم هغه صدقه ده چې په خپل ښي لاس باندې داسې صدقه ورکړي چې د خپل ګس (ګس) لاس نه یې هم پټوي .

(۱) رواه الترمذي ، مشکوة باب فضل الصدقة الفصل الثاني حديث ۳۵ .

(یعنی داسې په پټې طریقې سره په خي لاس صدقه ورکړي چې چَپ لاس هم ددینه خبر نه شي).

نوټ: په پټه صدقې ورکولو ته د ټولو نه زیات سخت شی ځکه وویلې شو چې په دې سره د الله ﷻ رضا حاصلیږي، او د الله تعالی غضب پرې دفع کیږي، د نفسِ آمّاره مخالفت راځي، ځکه هر سړې فطرتًا دا غواړي چې زه صدقه ورکړم نو ما دې خلق اوګوري، زما تعریف دې وکړي، او زه دې مشهور شم. اوس چې سړې دا په پټه ورکړي نو په دې سره د نفسِ امّاره او شیطان مخالفت راغی، او د رِیا او ځان خودَنې نه هم بچ شو. (۱)

د صدقې په وجه مصیبتونه او مرضونه دفع کیږي

۱. رسول الله ﷺ فرمایي:

اَلصَّدَقَةُ تَسُدُّ سَبْعِيْنَ بَابًا مِنَ السُّوْءِ. (۲)

صدقه (په انسان باندې) د بدی او تکلیفونو اویا (۷۰) دروازې بندوي.

۳. رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي:

دَاوُوْا مَرْضَاكُمْ بِالصَّدَقَةِ. (۳)

تاسو دخپلو بیماریانو علاج په صدقې ورکولو سره کوئ.

(یعنی که صدقه ورکوئ نو الله رب العزت به درته د بیماریانو نه شفاء درکوي).

۴. رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: حَصِّنُوْا أَمْوَالَكُمْ بِالزَّكٰوةِ. وَدَاوُوْا مَرْضَاكُمْ بِالصَّدَقَةِ. وَاسْتَقْبِلُوْا أَنْوَاعَ الْبَلَايَا بِالدُّعَاءِ. (۴)

(۱) مظاهر حق ج۳ باب فضل الصدقة.

(۲) رواه الطبراني في المعجم ۴/۳۲۷، والمنذري في الترغيب ۲/۱۹، والهيثمي في المجمع ۳/۱۰۹. المتجر الرابح ص ۱۳۴ ثواب الصدقة وفضلها.

(۳) اخرجه البيهقي في السنن ۳/۳۸۲.

(۴) اخرجه البيهقي في السنن ۳/۳۸۲، تنبيه الغافلين (۴۳۲).

تاسو د خپلو مالونو حفاظت په زکوة ورکولو سره وکړئ ، او د خپلو مرضونو علاج په صدقې ورکولو سره وکړئ ، او په دُعاګانو قِسما قسم بَلاګانې د ځان نه دفع کړئ .

د صدقې په وجه ګناهونه معاف کیږي

۱ . الله تعالی فرمايي :

﴿ خُذْ مِنْ أَمْوَالِهِمْ صَدَقَةً تُطَهِّرُهُمْ وَتُزَكِّيهِمْ بِهَا ﴾ . (۱)

ترجمه : ای پیغمبره ! ته د دوی د مالونو نه صدقه (او زکوة) واخله چې ته د دې صدقې په ذریعه دوی (د ګناهونونه) پاک او صفا کړې .

۲ . په یو بل حدیث کې دي ، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي :

اَلصَّدَقَةُ تُطْفِئُ الْخَطِيْئَةَ كَمَا يَذْهَبُ الْجَلِيْدُ عَلَى الصَّفَا . (۲)

صدقه ګناهونه داسې ختموي لکه باران چې د صفا او ښویَه کاڼي نه ګرد ختموي .

واقعه :

علماؤ یوه واقعه رانقل کړې چې منصور بن عمار رحمه الله یوه ورځ خلقو ته وعظ کولو نو د مجلس د خلقو نه یو کس راپاڅیده او څلور دراهم یې اوغوښته ، منصور بن عمار رحمه الله وویل :

مَنْ أَعْطَاهُ أَرْبَعَةَ دَرَاهِمَ دَعَوْتُ لَهُ أَرْبَعَ دَعَوَاتٍ .

څوک چې ده ته څلور (۴) درهمه ورکړي نو زه به هغه ته څلور دُعاګانې وکړم .

په دې مجلس کې د یهودي یو غلام ناست وُ هغه راپاڅید او ده ته یې څلور درهمه ورکړه ، او بیا یې منصور رحمه الله ته وویل : ماته او س څلور دُعاګانې وکړه :

۱ . زه غلام یې یم ، ماته دُعا وکړه چې الله ﷻ ما آزاد کړي .

۲ . زه فقیر یم ، ماته دُعا وکړه چې الله ﷻ ما مالداره کړي .

---

(۱) التوبة آیت ۱۰۳ .

(۲) رواه ابن حبان ، ورواه الدارمي ۲ / ۳۱۸ ، واحمد ۳ / ۳۹۹ ، والحاکم ۴ / ۴۲۲ ، المتجر الرابح ص ۱۳۵ حدیث ۵۶۴ ثواب الصدقة وفضلها ، مکاشفة القلوب فضیلة الصدقة .

۳. زما مالِک او سردار یهودي دی هغه ته د اِسلام راوړلو دُعا وکړه.

۴. زه ګناهګار یم، ماته دُعا وکړه چې الله ﷻ زما ګناهونه معاف کړي. (دغه شان زما د مالک د ګناهونو معاف کولو د پاره هم دُعا وکړه).

منصور بن عمار دده د پاره څلور واړه دُعاګانې وکړې.

کله چې دا غلام خپل ځای ته واپس لاړ، نو خپل مالِک ورنه پوښتنه وکړه چې څنګه ناوخته راغلی؟ ده ورته غونډه قصه بیان کړه چې دغه شان د منصور بن عمار رحمه الله په مجلس کې د وعظ اوریدو د پاره ناست ووم، بیا یو فقیر څلور درهمه اوغوښت، منصور وویل چې چا دده ته څلور درهمه ورکړه زه به هغه ته څلور دُعاګانې وکړم، نو ما هغه فقیر ته څلور درهمه ورکړه، د هغې په عوض کې منصور رحمه الله ماته څلور دُعاګانې وکړې:

۱. یوه دُعا زما د آزادیدو وه. خپل مالِک ورته وویل: أَنْتَ حُرٌّ لِوَجْهِ اللهِ. ته د الله ﷻ د رضا د پاره آزاد یې.

۲. دویمه دُعا زما د مالداری وه. نو خپل مالک ورته څلور زره (۴۰۰۰) درهمه ورکړه

۳. دریمه دُعا ستا د اِسلام راوړلو د پاره وه. نو مالک یې فوراً کلمه شهادت: أَشْهَدُ أَنْ لَّآ إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُوْلُ اللهِ. وویله، او په اسلام باندې مشرّف شو.

۴. څلورمه دُعا زما او ستا د مغفرت او بخښې د پاره وه. خپل مالک ورته وویل: دا کار خو زما په قدرت کې نشته.

کله چې دا مالک یې د شپې اُوده شو نو په خوب کې ورته یو ویوونکې وایي:

أَنْتَ فَعَلْتَ مَا فِيْ قُدْرَتِکَ وَأَنَا أَفْعَلُ مَا فِيْ قُدْرَتِيْ . قَدْ غَفَرْتُ لَکَ وَلِلْعَبْدِ وَلِلْوَاعِظِ وَلِلْحَاضِرِيْنَ أَجْمَعِيْنَ.(۱)

څه چې ستا په قدرت کې وو هغه تا وکړه، او څه چې زما په قدرت کې دي هغه به زه وکړم، نو ما تا ته، ستا غلام ته، وعظ کوونکي او ناستو ټولو حاضرینو ته بخښنه وکړه.

(۱) نزهة المجالس ج۲ ص ۵ باب في فضل الصدقة وفعل المعروف.

د صدقې په وجه د جهنم د اُور او د قيامت د ورځې د سختۍ نه بچ کېدل

۱ . په يو روايت کې دا سې الفاظ دي نبي عليه السلام فرمايي :

مَنِ اسْتَطَاعَ مِنْكُمْ أَنْ يَسْتَتِرَ مِنَ النَّارِ وَلَوْ بِشِقِّ تَمْرَةٍ فَلْيَفْعَلْ . (۱)

په تاسو کې چې څوک د دې طاقت لري چې د جهنم د اُور نه ځان اوساتي اگر که دا د يوې مجورې په څه حصه صدقه کولو سره وي ، خو خپل ځان دې د اُور نه محفوظ کړي (او د مجورې دا څه حصه دې صدقه کړي چې د دې په برکت د جهنم د اُور نه محفوظ شي) .

۲ . رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي :

لِيَتَّقِ أَحَدُكُمْ وَجْهَهُ النَّارَ وَلَوْ بِشِقِّ تَمْرَةٍ . (۲)

په کار ده چې په تاسو کې (هر) يو کس خپل مخ د اُور نه اُوساتي اگر چې هغه د قجورې په يوه تکړه (صدقه کولو) سره وي .

۳ . په يو حديث کې ذکر دي ، سردارِ دوجهان محمد رسول الله ﷺ فرمايي :

تَصَدَّقُوا فَإِنَّ الصَّدَقَةَ فِكَاكُكُمْ مِنَ النَّارِ . (۳)

صدقه کوئ ځکه صدقه تاسو د جهنم د اُور نه آزادوي .

انسان به د قيامت په ورځ د صدقې د سُورې لاندې وي

۱ . رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي :

ظِلُّ الْمُؤْمِنِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ صَدَقَتُهُ . (۴)

د قيامت په ورځ به د مومِن سورې د هغه صدقه وي .

يعنې صدقه به د قيامت په ورځ د انسان د سَر د پاسه د تمبو په شان اُودرَولې شي چې د هغې ورځې د سختې گرمۍ نه به يې محفوظ کوي .

---

(۱) رواه البخاري ۹/ ۱۶۲ ، ۱۸۱ ، واحمد ۴/ ۲۵۶ ، المتجر الرابح في ثواب العمل الصالح ص ۱۳۴ .

(۲) رواه احمد ۱ / ۳۸۸ ، والهيثمي في المجمع ۳ / ۱۰۵ . المتجر الرابح في ثواب العمل الصالح ص ۱۳۴

(۳) رواه البيهقي ۴ / ۱۸۹ ، المتجر الرابح ص ۱۳۵ .

(۴) رواه احمد ۵ / ۴۱۱ ، والهيثمي في المجمع ۳ / ۱۱۰ ، والمنذري ۳ / ۱۶ ، وابن خزيمة في الصحيح ۲۴۳۲ ، المتجر الرابح ص ۱۳۲ ثواب الصدقة وفضلها.

۲. رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :

إِنَّ الصَّدَقَةَ لَتُطْفِئُ عَنْ أَهْلِهَا حَرَّ الْقُبُورِ ، وَ إِنَّمَا يَسْتَظِلُّ الْمُؤْمِنُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فِيْ ظِلِّ صَدَقَتِهِ . (۱)

بيشکه صدقه د صدقه ورکوونکي نه د قبر گرمائش ختموي ، او مومن به د قيامت په ورځ د صدقې د سُوري لاندې وي .

دُعا : الله تبارک وتعالی دې مونږ ته هم د صدقې ورکولو توفيق راکړي چې د فقيرانو ، مسکينانو ، کنډو ، يتيمانو او عاجزو سره مدد وکړو ، د هغوی ضرورتونه پوره کړو . او الله ﷻ دې مونږ ټولو ته د نبي کريم ﷺ او صحابه کرامو په نقشِ قدم باندې د تللو توفيق رانصيبه کړي .

آمِيْن يَارَبَّ الْعَالَمِيْن .

وَاٰخِرُ دَعْوَانَا أَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ

---

(۱) رواه الطبراني في الكبير ، المتجر الرابح في ثواب العمل الصالح ص ۱۳۲ حديث ۵۳۵ .

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

﴿ كُلُّ نَفْسٍ ذَآئِقَةُ الْمَوْتِ ﴾. آل عمران آیت ۱۸۵.

د مرګ راتلل یقیني دي

تاليف :

آبُوالشَّمْس مولانا نُوْرُالْهُدٰی عُفِيَ عَنْهُ

مُدَرِّس دَارُالعلوم فیضُ القُرآن اکاخیل کالونی ، مردان

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

د مرګ راتلل یقیني دي

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَكَفٰى ، وَسَلَامٌ عَلٰى عِبَادِهِ الَّذِيْنَ اصْطَفٰى .

اَمَّا بَعْدُ فَأَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ . قَالَ اللهُ تَبَارَكَ وَتَعَالٰى فِي الْقُرْآنِ الْمَجِيْدِ وَالْفُرْقَانِ الْحَمِيْدِ :

﴿كُلُّ نَفْسٍ ذَآئِقَةُ الْمَوْتِ وَإِنَّمَا تُوَفَّوْنَ أُجُوْرَكُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فَمَنْ زُحْزِحَ عَنِ النَّارِ وَأُدْخِلَ الْجَنَّةَ فَقَدْ فَازَ وَمَا الْحَيَاةُ الدُّنْيَا إِلَّا مَتَاعُ الْغُرُوْرِ﴾ (۱)

وَقَالَ النَّبِيُّ ﷺ : اَلْكَيِّسُ مَنْ دَانَ نَفْسَهُ وَعَمِلَ لِمَا بَعْدَ الْمَوْتِ . (۲)

صَدَقَ اللهُ الْعَظِيْمُ .

زما خوږو قدرمنو او عزت مندو حاضرینو ! په مخ د زمکه چې څومره انسانان دي هغه ټول په دې متفق دي چې مرګ داسې یو حقیقت دی چې هیڅوک هم ددینه نشي خلاصیدی ، بلکه هر ذي روح به خامخا یو ورځ د مرګ دا پیالی څکي .

د مرګ نه هیڅوک هم اِنکار نه کوي

محترمو ! تاسو ته به په مخلوقاتو کې ډیر داسې خلق په نظر راشي کوم چې د قرآن کریم نه اِنکار کوي ، د پیغمبر ﷺ نه انکار کوي ، د قیامت نه اِنکار کوي ، د جنت او جهنم نه اِنکار کوي، تر دې چې د الله ﷻ د ذات نه هم اِنکار کوونکي شته . خو تر ننَه پورې هیڅوک داسې پیدا نه شو چې د مرګ نه یې اِنکار کړې وي ، یا یې په مرګ کې اختلاف کړې وي ،

(۱) آل عمران آیت ۱۸۵.

(۲) ترمذي باب صفة القيامة باب ۱۳٦ ، كذا ذكره الزبيدي في الاتحاف ۹ \ ۱۱ .

نوټ : د مرګ متعلق تفصیلي موضوع د اِصلاحي مدلل تقریرونه کتاب په دویم جلد کې په تفصیل سره ذکر ده . ابو الشمس

بلکه هر کس دا مني چې څوک هم دې دُنيا ته راغلې خامخا به يو ورځ ددې نه ځي ، د مرګ خُولې ته به ورځي . او ددې مشاهَده هر انسان روزانه په خپلو سترګو باندې هم کوي .

هيڅوک هم د مرګ نه نشي خلاصيدی

الله رب العزت فرمايي : ﴿كُلُّ نَفْسٍ ذَآئِقَةُ الْمَوْتِ﴾ . (۱)

ترجمه : هر يو نفس څکونکې د مرګ دی .(که هغه انسانان وي ، پيريان وي ، او که فرشتې وي ټول به وفات کيږي).

بل ځای الله ﷻ فرمايي : ﴿كُلُّ شَيْءٍ هَالِكٌ إِلَّا وَجْهَهُ﴾ (۲)

ترجمه : هر شی هلاکيدونکې (او فناء کيدونکې) دی مګر ذات د الله ﷻ به باقي وي.
په سورة رحمن کې الله رب العزت فرمايي :

﴿ كُلُّ مَنْ عَلَيْهَا فَانٍ ، وَيَبْقَى وَجْهُ رَبِّكَ ذُو الْجَلَالِ وَالْإِكْرَامِ ﴾ . (۳)

ترجمه : هر څوک چې په دې زمکه (آباد) دي هغه ټول فناء کيدونکي دي او صرف ستا د رب ذات به باقي پاتې وي کوم چې د لوي شان او عظمت خاوند دی .

نيته چې کله او چيرته پوره وي په هماغه وخت او هماغه ځای کې وفات کيدل

قدرمنو ! د انسان نيته چې کله هم پوره شي ، په کوم ځای کې هم پوره شي ، او د څه شی نه هم پوره شي تيک په هماغه وخت ، په هماغه ځای او د هماغه شی نه به ورته مرګ راځي.

الله ﷻ فرمايي :

﴿ وَلِكُلِّ أُمَّةٍ أَجَلٌ فَإِذَا جَاءَ أَجَلُهُمْ لَا يَسْتَأْخِرُونَ سَاعَةً وَلَا يَسْتَقْدِمُونَ ﴾ . (۴)

ترجمه : او د هرې ډلې (او قوم) د پاره يو وخت مقرر دی ، پس کله چې د دوی نيته راشي نو نه يو ساعت روستو کيږي او نه رامخکې کيږي .

(۱) آل عمران آيت ۱۸۵ .

(۲) القصص آيت ۸۸ .

(۳) الرحمن آيت ۲۶، ۲۷ .

(۴) الاعراف آيت ۳۴ .

په سورة منافقون کې الله ﷻ فرمايي :

﴿وَلَن يُؤَخِّرَ اللَّهُ نَفْسًا إِذَا جَآءَ أَجَلُهَا وَاللَّهُ خَبِيرٌ بِمَا تَعْمَلُونَ﴾ . (۱)

ترجمه : او الله تعالى هيڅ يو نفس ته هرگز مهلت نه ورکوي کله چې نيته يې راشي ، او الله تعالى خبردار دی د هغه څه نه چې تاسو يې کوی .

بل ځای الله ﷻ فرمايي: ﴿أَيْنَمَا تَكُونُوا يُدْرِككُّمُ الْمَوْتُ وَلَوْ كُنتُمْ فِي بُرُوجٍ مُّشَيَّدَةٍ﴾ (۲)

ترجمه : کوم ځای چې يئ تاسو مرگ به تاسو بيا مومي اگر چې تاسو په مضبوطو قلاگانو کې يئ.

نبي عليه السلام فرمايي : '' إِذَا قَضَى اللهُ لِعَبْدٍ أَنْ يَمُوتَ بِأَرْضٍ جَعَلَ لَهُ إِلَيْهَا حَاجَةً ''

أَوْ قَالَ '' بِهَا حَاجَةً '' . (۳)

کله چې الله ﷻ د يو بنده په باره کې دا فيصله وکړي چې دا دې په فلاني زمکه کې وفات شي نو ددې کس په هغه ځای کې ضرورت پيدا کړي (دې هلته لاړ شي او هملته وفات شي) .

حضرت سليمان عليه السلام سره ناست کس ته د ملک الموت په حيرانتيا سره کتل

ابن ابي شيبه په روايت د خيثمه سره يوه واقعه رانقل کړی ، دا واقعه تفسير مدارک واله د آيت : ﴿ وَمَا تَدْرِي نَفْسٌ بِأَيِّ أَرْضٍ تَمُوتُ ﴾ لاندې هم ذکر کړی ، همدارنگې ابن جوزي رحمه الله هم په خپل کتاب '' بُستان الواعظين '' کې رانقل کړی چې :

ملک الموت به د حضرت سليمان عليه السلام مجلس ته راتلو ، يوه ورځ چې دې راغې نو د حضرت سليمان عليه السلام سره يو کس (په شام کې) ناست وُ ، خبرې يې ورسره کولې ، ملک

(۱) المنافقون آيت ۱۱ .

(۲) النساء آيت ۷۸ .

(۳) اخرجه الترمذي ۲۱۳۶ ، واحمد ۲۲۷ .

الموت دغه کس ته په ډیر نا آشنا او حیرانتیا انداز کې کتل ، کله چې ملک الموت لاړ ، دې سړي د حضرت سلیمان عليه السلام نه پوښتنه وکړه :

یَا نَبِيَّ اللهِ ! مَنْ هٰذَا الدَّاخِلُ عَلَیْکَ آنِفًا ؟

اې د الله رسوله ! دا اوس چې تاته کوم کس راغلې ؤ دا څوک ؤ ؟ حضرت سلیمان عليه السلام ورته ووېل : دا خو ملک الموت ؤ ، دې سړي ووېل : ده خو ماته په ډیر نا آشنا انداز کې راکته ، ما سره دا یَره ده چې هسې نه زما روح واخلي ، نو ته دا خدمت وکړه : هوا ته حکم وکړه چې ما اوس فی الحال د هِند آخِري آطرافو ته اورسوي ، حضرت سلیمان عليه السلام هوا ته حکم وکړو ، هوا دې هماغه ځای ته اورسول .

یو څو ورځې روستو ملک المو ت بیا د حضرت سلیمان عليه السلام مجلس ته حاضر شو ، ده ورنه پوښتنه وکړه :

وَجَدْتَ عِنْدِيْ مُذْ اَیَّامٍ رَجُلًا فَنَظَرْتَ اِلَیْهِ نَظَرًا مُنْکَرًا ؟

یو څو ورځې مخکې چې د ماسره یو کس ناست ؤ تا هغه ته په ډیر نا آشنا انداز کته ، دا ولې ؟ ملک الموت ورته ووېل :

کُنْتُ أَعْجَبُ مِنْهُ . أُمِرْتُ بِقَبْضِ رُوْحِهٖ فِيْ ذٰلِکَ الْیَوْمِ بِجَزَائِرِ الْهِنْدِ وَهُوَ عِنْدَکَ بِالشَّامِ .

ما تعجب کولو چې ما ته خو ددې کس د روح قبض کولو باره کې دا حکم شوی چې دده روح د هِند په جزائرو کې واخله حالانکه دې دلته د تاسره په شام کې ناست ؤ (نو ځکه مې ورته په ډیر تعجب سره کتل) .

خو چې کله زه هماغه ځای ته ورسیدم کوم ځای چې دده نیته پوره وه نو ما دې هلته اوموندہ ، هوا هلته رسولې ؤ ، نو په هماغه ځای کې مې ورنه روح واخیست . (۱)

(۱) ابن ابي شيبه ، تفسير مدارک سورة لقمان آيت ۳۴ ، بستان الواعظين لابن جوزي رحمه الله ص ۱۲۳ ، نزهة الناظرين فی الاخبار والآثار المروية عن الانبياء والصالحين ص ۶۲۲ .شرح الصدور ص ٦٦ ط مکتبه فاروقيه .

د مرګ نه تیخته نشته :

الله تعالی فرمایي :

﴿ قُلْ إِنَّ الْمَوْتَ الَّذِي تَفِرُّونَ مِنْهُ فَإِنَّهُ مُلَاقِيكُمْ ثُمَّ تُرَدُّونَ إِلَى عَالِمِ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ فَيُنَبِّئُكُمْ بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُونَ ﴾ . (۱)

ترجمه : اې پیغمبره ته دوی ته ووایه چې بیشکه تاسو د کوم مرګ نه تختئ هغه ضرور تاسو سره ملاقي کیدونکې دی (تاسو رانیسي) ، بیا به تاسو هغه ذات طرفته واپس کیږئ (او هغه ته به وړاندې کیږئ) کوم چې ستاسو په پټ او ښکاره عملونو باندې پوهه دی ، نو دغه الله ﷻ به تاسو ته د هغه عملونو په باره کې خبر درکړي کوم چې تاسو (په دُنیا) کې کول .

یو شاعر وایي : إِذَا مَا حِمَامُ الْمَرْءِ كَانَ بِبَلْدَةٍ • دَعَتْهُ إِلَيْهَا حَاجَةٌ فَيَطِيرُ

کله چې د انسان د مرګ نیته په یو ښار کې پوره شي ، نو هلته یې څه حاجت پیداشي او ورشي ، (بیا په هماغه ځای کې وفات شي) .

الله ﷻ فرمایي : ﴿ قُلْ لَنْ يَنْفَعَكُمُ الْفِرَارُ إِنْ فَرَرْتُمْ مِنَ الْمَوْتِ أَوِ الْقَتْلِ ﴾ . (۲)

ترجمه : اې پیغمبره ته دوی ته ووایه که چیرته تاسو د مرګ یا قتل نه تختئ نو دا تیخته به تاسو ته هیڅ فایده درنه کړي .

د مرګ وخت هیچا ته معلوم نه دی

قدرمنو ! په دې خبره د ټولو انسانانو اتفاق دی چې هیچا ته دا پته نشته چې زه به کله وفات کیږم ؟ صبا به وفات کیږم ؟ یا میاشت پس ؟ یا کال پس ؟

سائنس اګر چې ډیره ترقي کړې خو تر اوسه یې دا معلومه نه کړه : چې انسان به کله وفات کیږي ؟ الله تعالی فرمایي :

﴿ وَمَا تَدْرِي نَفْسٌ بِأَيِّ أَرْضٍ تَمُوتُ إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ خَبِيرٌ ﴾ . (۳)

---

(۱) الجمعة آیت ۸ .

(۲) الاحزاب آیت ۱۶ .

(۳) سورة لقمان آیت ۳۴ .

ترجمه : او نه پوهيږي هيڅ کس چې په کومه زمکه به مړ کيږي ، بيشکه الله ﷻ پوهه او خبر دار دى .(يعنى هيچا ته دا معلومه نه ده چې زه به په کوم ځاى کې مړ کيږم ، البته الله ﷻ ته هر څه معلوم دي او په هر څه خبردار دى).

د مرګ د پَنجې نه هيڅوک نه شي خلاصيدى

معززو سامعينو ! د مرګ د پَنجې نه نه عالِم خلاص دى نه جاهِل ، نه مالدار او نه غريب ، نه مسلمان او نه کافر ، نه د فرعون غوندې متکبِر او نه د حضرت موسى عليه السلام غوندې کليمُ الله ، نه د نمرود غوندې سرکشه او نه د حضرت ابراهيم عليه السلام غوندې خليل الله ، نه د افلاطون او ارسطو غوندې حکيمان او نه د ابوجهل او ابولهب غوندې بې عقله، او نه د حضرت عمر او حضرت ابوبکر صديق رضى الله عنهما غوندې جليلُ القدر صحابه ، تر دې چې د دوارو جهانو سردار محمد رّسول الله ﷺ غوندې عظيم پيغمبر هم د مرګ نه خلاص نه شو . يو شاعر وايي :

لَوْ كَانَتِ الدُّنْيَا تَدُوْمُ لِوَاحِدٍ * لَكَانَ رَسُوْلُ اللهِ فِيْهَا مُخَلَّدًا

که چيرته په دُنيا کې يو کس هميشه پاتې کيدې شوى نو رسول الله صلى الله عليه وسلم به په کې هميشه پاتې و .

پته ولږيده چې د مرګ نه هيڅوک هم په هيڅ حيله نشي خلاصيدې ، تر دې چې که چيرته د حِکمت په وجه انسان د مرګ نه خلاصيدې شوې نو لقمان حکيم به د مرګ نه خلاص شوې وُ ، که چيرته د مال ودولت په وجه څوک د مرګ نه خلاصيدې شوې نو قارون به د مرګ نه بچ شوې وُ ، که چيرته د حکومت او دَبدبې په وجه څوک د مرګ نه بچ کيدې شوې نو فرعون به د مرګ نه بچ شوې وُ ، که چيرته د حُسن وجمال په وجه څوک د مرګ نه بچ کيدې شوې نو حضرت يوسف عليه السلام به د مرګ نه بچ شوې وُ ، که چيرته په بزرګى څوک د مرګ نه بچ کيدې شوې نو د جنيد بغدادي غوندې بزرګان به د مرګ نه بچ شوي وو ، حتّى چې که د پيغمبرى په وجه څوک د مرګ نه بچ کيدې شوې نو سردارِ دوجهان محمّد رّسولُ الله صلى الله عليه وسلم به د مرګ نه بچ شوې وُ .

معلومه شوه چې په هيڅ صورت انسان د مرګ نه نشي بچ کيدې . يو شاعر وايي :

اَلْمَوْتُ قَدْحٌ كُلُّ النَّاسِ شَارِبُوْهَا • وَالْقَبْرُ بَابٌ كُلُّ النَّاسِ دَاخِلُوْهَا

مرګ داسې پياله ده چې هر کس به يې څکي ، او قبر داسې دروازه ده چې هر کس به پرې داخليږي .

د مرګ علاج د هيچا سره نشته

يورپي ډاکټرانو د صحت د حفاظت د پاره بې شماره طريقې او وسائل راويستلي او ډير طبي تحقيقات يې کړي ، خو ددې ټولو خبرو باوجود تر اوسه داسې ډاکټر او سائنس دان پيدا نه شو چې دا ووايي : ما د مرګ علاج راويستلې .

بلکه ډير کرته داسې اوشي چې کوم ډاکټر او حکيم په کوم مرض کې مهارت حاصل کړې وي اکثر دغه ډاکټر او حکيم د همدغه مرض نه مر شي .

ارسطاليس د '' سِل '' په بيمارۍ کې ډير مهارت لرل ، افلاطون په '' فالج '' کې ، لقمان په '' سرسام '' ، او جالينوس د معدې په بيمارۍ کې پوره مهارت لرل . خو دوی ټول د همدغه بيمارۍ د وجې وفات شوي په کومه کې چې يې مهارت لرل . د عربۍ يو شعر دی :

بِسِلٍّ مَاتَ اَرَسْطَالِيْس وَاَفْلَاطُوْن بافليج • وَلُقْمَان بسرسامٍ وجالينوس مبطونا

په ټوله دُنيا کې په يوه ګهنټه کې اَتلس زره کسان وفات کيږي

محترمو ! په ټوله دُنيا کې په يوه ګهنټه کې تقريبا شپږ ويشت زره (٢٦٠٠٠) کسان پيدا کيږي ، او اتلس زره (١٨٠٠٠) کسان وفات کيږي ، ګويا په شوا روز کې په ټوله دُنيا کې تقريبًا څلور نيم لکه (۴۵٠٠٠٠) کسان وفات کيږي .

اوس هيڅ پته نه لږي چې ددې آينده څليريشت (٢۴) ګهنټو دپاره د مړو کوم فهرست تيارولې شي آيا په دې کې خو دده نوم نشته ؟

هيڅ پته نه لږي چې دده د کفن دپاره کومه کپړه استعماليږي آيا هغه خو بازار ته نه ده راغلې ؟

هيڅ پته نه لږي چې دده د مرګ اَسباب دده کورته رارسيدلي وي خو دې بيا هم د غفلت په خُوب اُوده دی ، د مرګ او آخرت نه غافله دی .

انسان د خاورې نه پیدا دی

الله رب العزت فرمايي : ﴿ مِنْهَا خَلَقْنَاكُمْ وَفِيهَا نُعِيدُكُمْ وَمِنْهَا نُخْرِجُكُمْ تَارَةً أُخْرَىٰ ﴾ . (۱)

ترجمه : مونږ تاسو ددې زمکې نه پيدا کړي يئ ، او ديته به مونږ تاسو (د مرګ نه پس) دوباره راولو ، او د همدې زمکې نه به مو يو ځل بيا (د قيامت په ورځ) را اوباسو .

زمکې ته واپس راتلل :

حديث کې راځي : لَمَّا خَلَقَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ آدَمَ عَلَيْهِ السَّلَامُ اِشْتَكَتِ الْأَرْضُ إِلَى رَبِّهَا لِمَا أُخِذَ مِنْهَا فَوَعَدَهَا أَنْ يردَّ إِلَيْهَا مَا أُخِذَ فَمَا مِنْ أَحَدٍ إِلَّا يُدْفَنُ فِي التُّرْبَةِ الَّتِي خُلِقَ مِنْهَا . (۲)

کله چې الله ﷻ حضرت آدم عليه السلام د زمکې نه پيدا کړو نو زمکې خپل رب ته شکايت وکړو ، نو الله ﷻ ورسره وعده وکړه چې څه ددينه اخيستل شوي هغه به ورته واپس کوي . نو اوس چې هر انسان وفات کيږي نو په هماغه خاوره (ځای) کې به دفن کيږي د کوم ځای نه چې پيدا شوی .

حضرت ابوهريرة رضي الله عنه فرمايي : يوه ورځ رسول الله صلی الله عليه وسلم د مدينې منورې په اطرافو کې ګرځيده نو وې ليده چې خلقو يو قبر کنيستو ، پوښتنه يې وکړه : دا قبر د چا دی ؟ خلقو ورته ووېل : داد حَبَشو يو کس دی د هغه د پاره قبر کنيستې شي . نبي عليه السلام اوفرمايل :

لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ سِيْقَ مِنْ أَرْضِهِ وَسَمَائِهِ حَتَّى دُفِنَ فِي الْأَرْضِ الَّتِي خُلِقَ مِنْهَا . (۳)

---

(۱) سوره طه آيت ۵۵.

(۲) تفسير مظهري ج۲ ص ۱۸۹ ، نزهة الناظرين ... کتاب ذکر الموت وما يتعلق به ص ۶۱۷ .

(۳) عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه قَالَ : خَرَجَ عَلَيْنَا رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَطُوْفُ بِبَعْضِ نَوَاحِي الْمَدِيْنَةِ وَإِذَا بِقَبْرٍ يُحْفَرُ فَأَقْبَلَ عَلَيْهِ فَقَالَ : لِمَنْ هٰذَا ؟ فَقِيْلَ لِرَجُلٍ مِنَ الْحَبَشَةِ فَقَالَ : لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ سِيْقَ مِنْ أَرْضِهِ وَسَمَائِهِ حَتَّى دُفِنَ فِي الْأَرْضِ الَّتِي خُلِقَ مِنْهَا . روى الترمذي الحكيم في نوادر الاصول ، نزهة الناظرين..... ص ۶۱۷ .

نشته دی لایق د عبادت مګر یو الله ﷻ دی ، دا کس د خپل ځای نه راوستې شو او په هغه ځای کې دفن کړې شو د کوم ځای نه چې پیدا شوې وُ .

د مرګ نه مخکې تیارې

قدرمنو ! که مونږ اوګورو په دُنیا کې چې څوک د دوه یا درې ورځو د پاره معمولي سفر کوي نو هم د مخکې نه پوره تیارې نیسي او د سفر د پاره توښه برابروي .

اُوس چې یو انسان د آخرت په دې دومره اوږد سفر ځي چې د هغې د پاره د سره څه اِنتهاء نشته نو ددې د پاره خو په طریقِ اولی تیارې په کار دی .

او دا دُنیا خو د همدې د پاره ده چې په دې کې انسان د آخرت د پاره څه د نیکو اعمالو توښه تیاره کړي .

اَلدُّنْيَا مَزْرَعَةُ الْآخِرَةِ . (۱) دُنیا د آخرت د پاره د کروَندې ځای دی .

نعمت الدُّنْيَا مَطِيَّةُ الْآخِرَةِ . ښه ده دا دُنیا چې دا توښه ده دآخرت د پاره .

د پُښتو متَل دی : ښه ده ، ښه ده دا دُنیا ، چې توښه ده د عُقبی .

دآخرت د پاره تیاري کوونکې کس عقل مند دی

کوم کس چې په دُنیا کې د آخرت د پاره تَیارې کوي داسې کس ته رسول الله ﷺ عقل مند ویلې : حدیث کې راځي :

اَلْكَيِّسُ مَنْ دَانَ نَفْسَهُ وَعَمِلَ لِمَا بَعْدَ الْمَوْتِ . (۲)

هوښیار کس هغه دی چې خپل نفس قابو کړي او د خواهشاتو نه یې اوساتي ، او د مرګ نه پس ژوند د پاره تیارې وکړي .

د مرګ نه مخکې د ځان سره حساب کول

محترمو ! کله چې د مرګ نه اِنکار نه شي کیدی ، نو بیا خو په کار ده چې انسان د هغې د پاره تیارې وکړي او د خپل ځان سره حساب وکړي ، رسول الله ﷺ فرمایي :

---

(۱) مفیدالطالبین .

(۲) ترمذي باب صفة القیامة ص ۱۳۶ .

مُوْتُوْا قَبْلَ أَنْ تَمُوْتُوْا وَحَاسِبُوْا قَبْلَ أَنْ تُحَاسَبُوْا .(۱)

د حديث لفظي ترجمه داده چې تاسو د مرګ نه مخکې مړه شئ ، او دقيامت په ورځ چې کله د تاسو سره حساب کولې شي د هغې نه مخکې د خپل ځان سره حساب وکړئ.

علماؤ د مرګ نه مخکې د مړه کيدو دوه مطلبه بيان کړي :

۱ . ستاسو په زړونو کې چې کوم ناجائز نفساني خواهشات دي ، يا د ګناه کولو چې کوم غلط خيالات دي دا مړه او ختم کړئ.

۲ . کله کله د ځان سره دا سوچ کوئ چې يوه ورځ به زه هم ددې دُنيا نه خالي لاسونه ځم، نه به راسره دا مال و دولت وي ، نه به دا کورونه او بنګلې وي او نه به دا دوستان وي ، بلکه يواځې به ځم . نو په دې سوچ کولو سره به انسان د ډيرو ظلمونو او ګناهونه بچ شي .

خو افسوس دا چې نن مونږ د خپل يو ورور مسلمان جنازه په خپلو اُوږو باندې ويسو ، په قبر کې يې کيدو ، خاورې ورباندې راواړوو خو بيا هم د دُنيا په محبت او د ځوانئ په نَشه کې دومره مست يو چې هيڅ سوچ مو ديته نه ځي چې زه به هم يوه ورځ خالي لاسونه ددې دُنيا نه روان يم.

خُلاصه :

د غونډ تقرير خلاصه دا ده چې انسان ته په کار دي چې د دُنيا دا عارضي ژوند غنيمت وګڼري ، په دې کې د آخرت د پاره د نيکو اعمالو ذخيره تياره کړي ، مرګ او د مرګ نه روستو ژوند ځانته رامخې ته کړي او هغه اعمال وکړي په کوم چې الله ﷻ راضي کيږي او د انسان د آخرې خاتمې ښه کيدو سبب ګرځي .

او د هغه اعمالو نه ځان اوساتي په کومو سره چې دانسان آخره خاتمه خرابيږي . او هميشه د ځان د پاره د آخِرې خاتمې ښه کيدو دُعا په کار ده . الله تبارک و تعالى دې مونږ ټولو ته په دې خبرو دعمل کولو توفيق رانصيبه کړي .

آمِيْن يَا رَبَّ الْعَالَمِيْن .

وَآخِرُ دَعْوَانَا أَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ

---

(۱) کشف الخفاء ۲:۲:۳ .

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

﴿ إِنَّ اللّٰهَ وَمَلٰٓئِكَتَهٗ يُصَلُّوۡنَ عَلَى النَّبِيِّ يٰٓأَيُّهَا الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا صَلُّوۡا عَلَيۡهِ وَسَلِّمُوۡا تَسۡلِيۡمًا ﴾. الأحزاب آيت ٥٦.

د درودِ شریف فضیلت

تَالِیف :

اَبُوالشَّمۡس مولانا نُوۡرُالۡهُدٰی عُفِیَ عَنۡهُ

مُدَرِّس دَارُالعلوم فیضُ القُرآن اکاخیل کالونی مردان

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

د درودِ شریف فضیلت

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَحْدَهُ ، وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی مَنْ لَّا نَبِيَّ بَعْدَهُ ، وَلَا رَسُوْلَ بَعْدَهُ ، وَهُوَ خَاتَمُ النَّبِيِّيْنَ ، وَعَلٰی آلِهٖ وَاَصْحَابِهٖ اَجْمَعِيْنَ ، وَعَلٰی مَنْ تَبِعَهُ وَتَبِعَهُمْ بِاِحْسَانٍ اِلٰی يَوْمِ الدِّيْنِ .

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ . قَالَ اللّٰهُ تَبَارَكَ وَتَعَالٰی فِي الْقُرْآنِ الْمَجِيْدِ وَالْفُرْقَانِ الْحَمِيْدِ :

﴿إِنَّ اللّٰهَ وَمَلَائِكَتَهُ يُصَلُّوْنَ عَلَى النَّبِيِّ يَا أَيُّهَا الَّذِيْنَ آمَنُوْا صَلُّوْا عَلَيْهِ وَسَلِّمُوْا تَسْلِيْمًا﴾ (۱)

وَقَالَ النَّبِيُّ ﷺ : مَنْ صَلّٰى عَلَيَّ صَلَاةً وَاحِدَةً صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ عَشْرًا . (رواه مسلم وابوداو والنسائي والترمذي وابن حبان في صحيحه) . (۲)

صَدَقَ اللّٰهُ الْعَظِيْمُ .

د درود شریف اهمیت

زما خوږو قدرمنو او عزت حاضرینو ! کوم آیتِ مبارکه چې ما تلاوت کړو په دې کې الله تعالی مسلمانانو ته دا حکم کړی چې تاسو په نبي کریم صلی الله علیه وسلم باندې درود و سلام لیږئ ، خو ددې نه یې تعبیر په داسې انداز سره وکړو چې اول الله تعالی خپل او د فرښتو " صلاة " د نبي علیه السلام دپاره بیان کړو او بیا یې عامو مؤمنانو ته دا حکم وکړو چې تاسو هم په نبي علیه السلام باندې درود لیږئ .

(۱) الأحزاب آيت ٥٦.

(۲) اخرجه ابوداود في الوتر باب ٦٢ ، والنسائي في الاذان باب ٣٧ والسهو باب ٥٥ ، ومسلم في الصلاة ، الترغيب والترهيب ج۲ ص ٣٢٣ الترغيب في اكثار الصلوة على النبي ﷺ ط . مكتبة الحرمين الشرفين كوئته .

نوټ : " د درورد شریف متعلق تفصیلي موضوع د اصلاحي مدلل تقریرونه کتاب په اول جلد کې په تفصیل سره ذکر ده . ابوالشمس

نو کوم کار (په نبي ﷺ باندې درود) چې الله ﷻ او د هغه فرښتې کوي نو په کار داده چې عام مؤمنان خو يې په طريقِ اولی سره وکړي، ځکه په دوی باندې خو د نبي کريم صلی الله عليه وسلم بې شميره احسانات دي.

بل دا چې په دې آيت کې د عامو مسلمانانو هم ډير لوي فضيلت او غوره والې ثابت شو، ځکه چې الله تعالی دوی د ځان سره په هغه کار کې شريک کړل کوم چې دې پخپله او د هغه فرښتې کوي (چې هغه په نبي ﷺ باندې درود ليږل دي).(۱)

قدرمنو! په قرآن مجيد کې الله تعالی ډير احکامات ذکر کړي لکه: لمونځ، روژه، زکوة، حج، جهاد وغيره. او د ډيرو پيغمبرانو تعريفونه يې هم بيان کړي، خو ليکن په هيڅ يو حکم او اعزاز کې يې دا ندي فرمايلي چې ګني دا کار زه هم کوم نو تاسو يې هم کوئ.

بلکه دا اعزاز صرف او صرف د سيّد الکونين، فخرِ دوجهان مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ الله صلی الله عليه وسلم د پاره ثابت دی چې الله تعالی اول د صلاة نسبت خپل ځان طرفته وکړو، بيا يې ملائکو طرفته وکړو او ددې نه روستو يې بيا عامو مؤمنانو ته دا حکم وکړو چې: اې مؤمنانو تاسو هم په نبي عليه السلام باندې درود وسلام وايئ.(۲)

د علامه اسماعيل حقي رحمه الله تحقيق:

صاحب د روح البيان (علامه اسماعيل حقي رحمه الله) دلته ليکلي دي چې دغه شرافت او اعزاز کوم چې الله تعالی زمونږ پيغمبر عليه السلام ته ورکړې، دا د هغه شرافت او اعزاز نه زيات دی کوم چې الله ﷻ حضرت آدم ﷺ ته ورکړې وُ "چې فرښتو ته يې حکم کړې وُ چې تاسو حضرت آدم ﷺ ته سجده د تعظيم وکړئ".

ځکه په هغه سجده کولو کې الله تعالی په خپله شريک نه وُ، او په نبي عليه السلام باندې "صلاة" ليږلو کې الله تعالی او د هغه فرښتې هم شريکې دي.

(۱) معارف القرآن سورة احزاب آيت ۵۶.

(۲) قَالَ سَهْلُ بْنُ عَبدِالله التستري قدس سرّه: اَلصَّلاةُ على محمدٍ اَفضَلُ الْعِبَادَاتِ. لِاَنَّ الله تعالى تولاها هو وملائِكتَه ثُمَّ اَمَرَ بِهَا المؤمنينَ. وسائرُ العِبادَاتِ ليس كذالك. يعنى ان الله تعالى اَمَرَ بسائرِ الْعِبَادَاتِ ولم يَفْعَلْهُ بِنَفْسِه. (روح البيان ج۵ ص ۲۶۶ الاحزاب اية ۵۶).

لهذا دا شرافت او عزت زيات شو . (۱)

د درود شریف فضائل

محترمو ! لکه څرنګ چې د قرآن کريم تلاوت کول عبادت دی او انسان ته پرې د دواړو جهانو سعادت حاصليږي ، نو دغه شان په نبي کريم صلى الله عليه وسلم باندې درود شريف ويل هم عظيم عبادت دی ، په دې سره هم انسان ته د دواړو جهانونو سعادت او نيک بَختيا حاصليږي دغه وجه ده چې په احاديثو مبارکه ؤ کې د درود شريف ډير زيات فضايل ، فوائد ، خصوصيات او برکات ذکر شوي دي ، او علماء کرامو په دې باندې مستقل کتابونه هم ليکلي دي ، خو زه به درته صرف يو څو عمده فضايل بيان کړم .

۱ . د الله ﷻ د رحمت ذريعه ده :

د درود شريف يو فضيلت دا دې چې په يو ځل درود ويلو سره الله ﷻ په انسان باندې لس (۱۰) رحمتونه راوَروي .

۱ . نبي کريم صلى الله عليه وسلم فرمايي :

مَنْ صَلَّى عَلَيَّ صَلَاةً وَاحِدَةً صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ عَشْرًا . (رواه مسلم وابوداود والنسائي والترمذي وابن حبان في صحيحه) . (۲)

څوک چې په ما باندې يو ځل درود ووايي نو الله تعالى په هغه باندې لس (۱۰) رحمتونه نازلوي .

ځکه الله تعالى فرمايي : ﴿ مَنْ جَاءَ بِالْحَسَنَةِ فَلَهُ عَشْرُ أَمْثَالِهَا ﴾ . (۳)

---

(۱) وَهذا التَّشْرِيفُ الَّذِيْ شَرَّفَ اللهُ به نَبِيَّنَا عليه السلام أَتَمُّ مِن تَشْرِيْفِ آدمَ عليه السلام بِأَمرِ الملائكةِ بِالسُّجُوْدِ له. لِأَنَّهُ لَايَجُوْزُ أَنْ يَكونَ اللهُ تعالى مع الملائكةِ في هذا التَّشْرِيفِ ، وقَدْ أَخْبَرَ تعالى عن نَفْسِهِ بِالصَّلَاةِ عَلَى النَّبِيِّ ثُمَّ عَنِ الملائكةِ . (تفسير روح البيان ج٥ ص ٢٦٥ الاحزاب آيت ٥٦).

(۲) اخرجه ابوداود في الوتر باب ٦٢ ، والنسائي في الاذان باب ٣٧ والسهو باب ٥٥ ، ومسلم في الصلاة ، الترغيب والترهيب ج٢ ص ٣٢٣ الترغيب في اكثار الصلوة على النبي ﷺ ط . مكتبة الحرمين الشريفين كوئته .

(۳) الأنعام آيت ١٦٠ .

څوک چې (د الله ﷻ دربار ته) يوه نيکي راوړي نو د هغه د پاره لس چنده بدله ده .
نو کوم کس چې په نبي کريم صلى الله عليه وسلم باندې يوه پيره درود ووايي نو الله تعالى ددې په عوض کې په ده باندې لس رحمتونه راوروي . (١)

٢ . په يو بل حديث کې په يو ځل درود ويونکي باندې د اويا (٧٠) رحمتونو ذکر شوي ، حضرت عبدالله بن عمرو بن العاص رضي الله عنهما فرمايي :

مَنْ صَلَّى عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَاحِدَةً صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَمَلٰئِكَتُهُ سَبْعِيْنَ صَلَاةً . (٢)

کوم کس په نبي کريم ﷺ باندې يو ځل درود ووايي نو الله تعالى او د هغه فرښتې په هغه باندې اويا (٧٠) ځله درود (رحمت او دعا) ليږي .

٢ . د نبي عليه السلام د شفاعت ذريعه ده :

د درود شريف دويم فضيلت دادې چې درود ويونکي ته به د قيامت په ورځ د نبي کريم صلى الله عليه وسلم شفاعت نصيب کيږي .
رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي :

مَنْ صَلَّى عَلَيَّ حِيْنَ يُصْبِحُ عَشْرًا وَ حِيْنَ يُمْسِيْ عَشْرًا أَدْرَكَتْهُ شَفَاعَتِيْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ . (٣)

څوک چې په ما باندې صبا او بيګاه لس (١٠) ، لس (١٠) کرته درود شريف لولي ، نو هغه ته به د قيامت په ورځ زما شفاعت نصيبه کيږي .

٣ . د نيکيو د زياتوالي ، د ګناهونو د مغفرت او د مرتبې د اوچتوالي ذريعه ده :

د درود شريف دريم فضيلت دادې چې ددی په وجه د انسان په عَملنامه کې نيکی ليکلې کيږي ، ګناهونه يې ختميږي او مرتبې يې اوچتيږي . نبي کريم صلى الله عليه وسلم فرمايي :

---

(١) مظاهر حق شرح مشكوة باب فضل الصلاة على النبي ﷺ وفضلها .
(٢) رواه احمد باسناد حسن ، المسند ٣ / ١٠٨ ، ورواه الهيثمي في المجمع ١٠ / ١٦٠ ، مشكوة ص ٧٨ ، الترغيب والترهيب ج٣ ص ٣٢٥ الترغيب في اكثار الصلوة على النبي ﷺ القول البديع ص ١٠٣ .
(٣) رواه الطبراني ، الجامع الصغير رقم الحديث ٦٢٣٣ ، القول البديع .

مَنْ صَلَّى عَلَيَّ مَرَّةً وَاحِدَةً كَتَبَ اللهُ لَهُ عَشْرَ حَسَنَاتٍ. (١)

څوک چې په ما باندې يو ځل درود ووايي نو الله تعالى به د دې په عوض كې دده په عملنامه كې لس (١٠) نيكۍ وليكي.

همدارنګې نبي عليه السلام فرمايي:

مَنْ صَلَّى عَلَيَّ صَلَاةً صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ عَشْرَ صَلَوَاتٍ، وَيَحُطُّ عَنْهُ بِهَا عَشْرَ سَيِّآتٍ، وَرَفَعَهُ بِهَا عَشْرَ دَرَجَاتٍ. (٢)

څوک چې په ما باندې يو ځل درود ووايي نو الله تعالى به ددې په عوض كې په ده باندې لس (١٠) رحمتونه نازل كړي، د ده لس (١٠) ګناهونه به معاف كړي، او لس (١٠) درجې به يې اوچتې كړي.

۴. د نبي كريم ﷺ سره د نزديكت ذريعه ده

د درود شريف څلورم فضيلت دا دې چې درود ويونكې به د قيامت په ورځ د نبي كريم صلى الله عليه وسلم سره نزدې وي.

١. نبي عليه السلام فرمايي:

إِنَّ أَوْلَى النَّاسِ بِي يَوْمَ الْقِيَامَةِ أَكْثَرُهُمْ عَلَيَّ صَلَاةً. (٣)

بيشكه دقيامت په ورځ به ماته په ټولو خلكو كې هغه كسان ډير نزدې وي چاچې په ما باندې ډير درود ويلې وي.

٢. إِنَّ أَقْرَبَكُمْ مِنِّيْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فِيْ كُلِّ مَوْطِنٍ أَكْثَرُكُمْ عَلَيَّ صَلَاةً فِي الدُّنْيَا. (۴)

(١) رواه الإمام الأحمد في المسند ج٢ ص٥١٥ رقم: ٧٥٠٨، والبيهقي في مجمع الزوائد ج١٠ ص١٦٠، وكنزالعمال ج١ ص ٢۴٩، القول البديع ص ١١٨.

(٢) اخرجه النسائي في الاذان باب ٧٣ والسهو باب ٥٥، واحمد في المسند ٢ / ١٦٨، ٣٧٢، ٣٧٥، ۴٨٥، الترغيب والترهيب ج۴ ص ٣٢٣.

(٣) رواه الترمذي وابن حبان في صحيحه كلاهما من رواية موسى بن يعقوب، كذا في الترغيب ج٢ ص٧٣٢، وبسط السخاوي في القول البديع الكلام على تخريجه.

۴) كنزالعمال ج١ ص٢٥٥، سعادة الدارين ص ٦٠.

بيشکه دقيامت په ورځ به په هرمقام اوهرځاې کې په تاسو ټولو کې ماته هغه څوک ډير زيات نږدې وي چاچې په دُنياکې په ماباندې ډير درودشريف ويلې وي.

۵ . د مصيبتونو او غمونو د اِزالې ذريعه ده

د درود شريف پنځم فضيلت او فائده داده چې ددې په وجه الله جل جلاله انسان ته د مصيبتونو نه نجات ورکوي او ګناهونه يې معاف کوي.

حضرت ابي بن کعب رضي الله عنه فرمايې: چې زه يوه ورځ دربارِ نبوت ته حاضر شوم او عرض مې وکړ: يَارَسُوْلَ اللهِ ! إِنِّي أُكْثِرُ الصَّلَاةَ عَلَيْكَ فَكَمْ أَجْعَلُ لَكَ مِنْ صَلَاتِيْ ؟ (۱) فَقَالَ: مَاشِئْتَ. قُلْتُ اَلرُّبُعُ. قَالَ مَاشِئْتَ. فَإِنْ زِدْتَ فَهُوَ خَيْرٌ لَكَ. قُلْتُ: فَالنِّصْفُ. قَالَ: مَاشِئْتَ فَإِنْ زِدْتَ فَهُوَ خَيْرٌ لَكَ. قُلْتُ: فَالثُّلُثَيْنِ. قَالَ: مَاشِئْتَ فَإِنْ زِدْتَ فَهُوَ خَيْرٌ لَكَ. قُلْتُ: اَجْعَلُ صَلَاتِيْ كُلَّهَا. قَالَ: إِذًا يُكْفٰى هَمُّكَ، وَيُغْفَرُلَكَ ذَنْبُكَ .رواه احمد والترمذي في القيامة باب ۳۲ والحاكم وصححه . قال الترمذي حديث حسن صحيح . (۲)

اې دالله رسوله ! زه غواړم چې په تاسو باندې زيات درود ووايم، نوآيا څومره يې ووايم ؟ نبي کريم صلى الله عليه وسلم عرض وکړ: څومره چې ستا خوښه وي (همغومره مقدار کې وايه) . مابيا عرض وکړو چې څلورمه حصه ولولم ؟ نونبي کريم صلى الله عليه وسلم وفرمايل : څومره چې ته غواړې. که چيرې ددې نه يې هم زيات کړې نو دا ستا دپاره ډيره بهتره ده . مابيا عرض وکړو چې اې زما آقا زه به (د نفلي اذکارو او د خپلې دُعا په وخت کې) نيم وخت درودشريف وايم ؟ نبي کريم صلى الله عليه وسلم وفرمايل: چې ستا خوښه ده ، که ددينه يې هم زيات کړې نوستادپاره ډيره غوره ده . ماعرض وکړو چې په دريځحصو کې دوه حصې وخت کې به درودشريف وايم؟ نبي کريم صلى الله عليه وسلم وفرمايل: چې ستامرضی ده، که ددينه يې هم زيات کړې نو داستادپاره ډيره غوره ده .

(۱) قوله '' أُكْثِرُالصَّلَاةَ عَلَيْكَ فَكَمْ أَجْعَلُ لَكَ مِنْ صَلَاتِيْ ؟ '' معناه: أكثر الدعاء فكم أجعل لك من دُعائي صلاةً عليك .
الترغيب والترهيب ج۲ ص ۳۲۷ الترغيب في اكثار الصلوة على النبي صلى الله عليه وسلم .

(۲) رواه الترمذي، مشكوة شريف ۸۶، الزواهر ص۱۱۷ وبسط السخاوي في تخريجه .

ما عرض وکړ چې اې زما آقا زه به (د نفلي اذکاروا و دُعاؤ) په ټول وخت کې درود شريف وايم، نو رسول الله ﷺ اوفرمايل:

چې که چيرته ته داسې وکړې نو دا به ستا دپاره د ټولو غمونو د پاره کافي وي او ستا ټول ګناهونه به تاته اُوبخلې شي.

فايده: ددې نه معلومه شوه چې د درود شريف دا برکت او فضيلت دی چې کوم سړې دا وايي او د خپل ژوند يو ضروري جزء يې اوګرځوي، نو دده د دُنيا او آخرت ټول مقاصد پرې پوره کيږي ځکه مَنْ كَانَ لِلّٰهِ كَانَ اللّٰهُ لَهٗ. څوک چې د الله شو، نو الله د هغه شو. (۱)

۶. د دُعا قبليدو ذريعه ده:

د درود شريف شپږم فضيلت دادې چې ددې په وجه سره د انسان دُعا قبليږي، يعنی د کومې دُعا نه مخکې چې درود شريف وويل شي نو الله تعالی دا دُعا قبلوي.

۱. حضرت فضالة بن عبيد ﷺ وايي: چې يوه ورځ رسول الله ﷺ تشريف فرما وُ، يو سړې راغې اولمونځ يې وکړو، کله چې دلمانځه نه فارغ شونو دُعايې شروع کړه چې:

اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِيْ وَارْحَمْنِيْ. ياالله! ما اوبخې، اوپه مارحم وکړې.

نبي کريم صلی الله عليه وسلم ورته اوفرمايل: عَجِلْتَ اَيُّهَا الْمُصَلِّيْ. إِذَا صَلَّيْتَ فَقَعَدْتَ فَاحْمِدِ اللّٰهَ بِمَا هُوَ أَهْلُهٗ. وَصَلِّ عَلَيَّ. ثُمَّ ادْعُهُ.

اې لمونځ ګزاره! تا ډيره جلدبازي وکړه، کله چې ته لمونځ وکړې نوکينه، اودالله تعالی حمد وثنا بيان کړه، بيا په ما باندې درود ووايه، بيا دُعا وغواړه.

راوي وايي چې بيا يو بل کس راغې، لمونځ يې وکړو، اود الله تعالی حمدو ثنا يې بيان کړه، بيا يې په نبي کريم ﷺ درود ولوستو، نونبي عليه السلام ورته اوفرمايل:

أَيُّهَا الْمُصَلِّيْ! أُدْعُ تُجَبْ. (۲)

اې لمونځ ګزاره! ته دعاکوه، ستا دعا به قبليږي.

(۱) مشکوة باب فضل الصلاة على النبي صلى الله عليه وسلم وفضلها.

(۲) رواه الترمذي وابوداود ونسائي، مشكوة شريف ص۸۴.

۲. حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ فرمايي چي (يوه ورځ) ما لمونځ کولو، نبي کريم صلى الله عليه وسلم هم تشريف فرما ؤ، حضرت ابوبکر صديق ﷺ او حضرت عمر ﷺ هم ورسره وو. د لمانځه نه پس چي زه کيناستم نو د الله ﷻ ثناء مي شروع کړه او بيا مي په نبي عليه السلام درود وويل، د هغي نه پس مي خپل (ديني او دُنيوي مقاصدو دپاره) خپل ځان له دُعا اوغوښته (دي ليدلو سره) رسول الله ﷺ راته اوفرمايل:

سَلْ تُعْطَهْ، سَلْ تُعْطَهْ. (١)

سوال کوه، تاته به درکولي شي، سوال کوه، تاته به درکولي شي (يعنى دُعا غواړه ضرور به قبلولي شي).

اهمه نُکته: په حصن حصين کي د شيخ ابوسليمان داراني رحمه الله نه نقل دي چي کله تاسو د الله ﷻ نه دُعا غواړئ نو په اول او آخر کي ورنه درود شريف وايئ، او په مينځ کي خپل حاجت غواړئ. ځکه الله ﷻ خو دواړه درُودونه قبلوي نو د هغه د فضل وکرم او احسان نه دا لرې ده چي هغه مخکي او روستو درود شريف خو قبول کړي، او دا مينځ کي دُعا قبوله نه کړي (بلکه دا دُعا په هم په خپل فضل وکرم سره قبلوي). (۲)

د درود شريف نه بغير دُعا نه قبليږي:

لهذا انسان ته په کار دي چي د دُعا نه مخکي درود شريف اولولي، ځکه چيرته د دُعا نه مخکي درود شريف اونه ويل شي نو دا دُعا نه قبليږي.

حضرت عمر رضى الله عنه فرمايي:

(١) عَنْ عَبْدِاللهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ كُنْتُ أُصَلِّيْ وَالنَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَاضِرٌ وَأَبُوْبَكْرٍ وَعُمَرُ مَعَهُ. فَلَمَّا جَلَسْتُ بَدَأْتُ بِالثَّنَاءِ عَلَى اللهِ تَعَالَى ثُمَّ الصَّلَاةَ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ دَعَوْتُ لِنَفْسِيْ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: سَلْ تُعْطَهْ. سَلْ تُعْطَهْ. رواه الترمذي، مشکوة شريف ص۸۷ حديث نمبر ۱۳ باب فضل الصلاة على النبي صلى الله عليه وسلم وفضلها.

(۲) مظاهر حق شرح مشکوة باب فضل الصلاة على النبي صلى الله عليه وسلم وفضلها.

إِنَّ الدُّعَاءَ مَوْقُوْفٌ بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ لَا يَصْعَدُ مِنْهُ شَيْءٌ حَتّٰى تُصَلِّيَ عَلٰى نَبِيِّكَ. (۱)

بيشکه دُعا د آسمان او ځمکې په مينځ کې موقوفه (مُعَلّق او بنده) وي او پورته د قبليدو دپاره نه خيجي ترڅو پورې چې تاسو په نبي کريم صلی الله عليه وسلم باندې درود اونه وايئ (۲)

۷. د درود شريف په وجه اعزاز

د درود شريف اووم فضيلت دادی چې ددې په وجه انسان په دُنيا او آخرت دواړو کې د عزت او اِکرام مستحق ګرځي.

نبي کريم ﷺ د درود ويونکې خُله چَپ (ښُکل) کړې

علامه سخاوي رحمه الله په خپل کتاب ''القول البديع في الصّلاة على الحبيب الشّفيع'' کې، علامه ابن حجر رحمه الله او نورو معتمدو علماؤ د محمد بن سعيد بن مطرق رحمه الله يوه واقعه رانقل کړې، کوم چې ډير نيک او بزرګ سړې تير شوې.

محمد بن سعيد بن مطرق وايي: چې ما په خپل ځان باندې د اُوده کيدو په وخت يو مخصوص انداز کې درود ويل لازم کړي وو، چې کله به مې هغه مقدار درود وويل نو بيا به اُوده کيدم. يوه شپه زه په خپله بالا خانه کې ناست وم، درودشريف مې وويل او بيا کيناستم، دې دوران کې زما سترګې ورغلې اُوده شوم، په خُوب کې مې د نبي کريم صلی الله عليه وسلم سره ملاقات اوشو، پيغمبر عليه السلام دبالا خانې په دروازه دننه تشريف راوړو، دنبي کريم ﷺ د نُور مبارک نه ټوله بالا خانه روښانه شوه، بيا رسول کريم ﷺ زماخواته تشريف راوړو او وې فرمايل:

هَاتِ هٰذَا الْفَمَ الَّذِيْ تُكْثِرُ بِهِ الصَّلَاةَ عَلَيَّ أُقَبِّلْهُ.

په کومه خُله باندې چې ته په مابانديې ډير درود وايې هغه راديخوا کړه چې زه يې چَپ (ښُکل) کړم.

---

(۱) رواه الترمذي، مشكوة باب فضل الصلاة على النبي ﷺ وفضلها، رواه الطبراني ج۱ ص ۲۲۰ رقم ۷۲۱، كنزالعمال ۳۹۸۴.

(۱) په يو بل حديث کې داسې الفاظ دي: حضرت علي رضی الله عنه فرمايي: كُلُّ دُعَاءٍ مَحْجُوْبٌ حَتّٰى يُصَلِّيَ عَلٰى مُحَمَّدٍ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. رواه القاضي عياض في الشفاء ۲ / ۱۵۲، والهيثمي في المجمع ۱۰ / ۱۰

محمد بن سعید بن مطرق وايي چې ماته حیا راغله (چې څنګه نبي علیه السلام زما خُله ښکل کوي ؟ دا خو بې ادبي ده) نو ما خپل مخ دیخوا راواړول ، نو نبي کریم ﷺ زه په رخسار باندې ښکل کړم ، دغه وخت په دې کور کې داسې خوشبوئي خوره شوه چې د هغې په مخکې ددنیا ټولې خوشبویانې هیڅ نه وې ، ددې خوشبوئي په وجه زما بې هم راویښه شوه.

محمد بن سعید بن مطرق وايي چې د راویښیدو نه روستو هم په دې کور کې څو ورځې خوشبويي موجوده وه او زما د رخسارنه اته (۸) ورځې مسلسل خوشبويي تلله . (۱)

د یو درود شریف د ثواب په وجه د غونډې مقبرې واله نه عذاب پورته کیدل :

